مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: محمدابراهیم سپېڅلی ۲۰۲۶/۰۸/۲۹

# سپین‌ږیری موچي

ؤ، نه ؤ، پخوا په یولږي کلي کي یوموچي ؤ، ده به د کلیوالو زړي څپلی ګنډلي او بیا به یې له نورو شیانو سره بدلولی.

نانوایي ته به یې څپلی ورکړي ، له هغه څخه یې په بدل کي ډوډئ اخیسته، له ښکاري څخه یې غوښي وړلي او هغه ته یې په بدل کي څپلی ورګنډلي، د موچي دغه راکړه ورکړه څه اسان کار نه ؤ.

یوه ورځ موچي نان وای ته ورغلی، چي د څپلیو په بدل کي ډوډئ ځني واخلي، خو نان وای ورته وویل، زه څپلیو ته اړتیا نه لرم، زما منګی مات سوی دی، ولاړ سه! له کلال څخه ماته منګی راوړه، چي زه ډوډئ درکړم.

موچي کلال ته ورغلی، له هغه څخه یې منګی وغوښت.
کلال هم ورته وویل، زه څپلیو ته اړتیا نه لرم، خو که یو څه غوښه راته پیدا سي نو ښه به وي.
که چیري ماته غوښه راوړی، نو زه به یو منګی درکړم.

موچي، ښکاري ته ورغلی، خو هغه هم له څپلې غوښتلو څخه انکار وکړ او د یو تېره چاکو غوښتنه یې ځیني وکړه.
زما چاکو مات سوی دی ماته یو چاکو راوړه، بیا به غوښي درکړم.

موچي، پښ ته ورغلی، چي د څپلیو په بدل کي چاکو ورکړي، خو پښ هم له څپلیو غوښتلو څخه ډډه وکړه.
سپین ږیری موچي له خپل دغه حالته ستړی سو او
ورځ ترځلي یې ورته ستونزي ډېرېدل.

د یادي ستونزي د حل لپاره کلیوالي جرګي ته یوکلیوال وویل : داسمه ده، چي ډوډئ له ډېرو ورځو ساتلو وروسته خوسا کیږي، منګی ماتیږي، چاکو زنګ کوي او څپلی هم زړیږي، خو سره او سپین زر تلپاته دي.

بل کلیوال وویل:راسئ! سره او سپین زر د یوي ګوتمي په کچه جوړ کړو او نوم به یې سکه وي
ټول کلیوال خوشحاله سول، ټولو دې کار ته ملا وتړل، له دې وروسته رانیول او خرڅول اسانه سول.

ډېر کلونه تېر سول، ټولو خلګو د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره له سکي څخه کار اخیستی،خو وروسته بیا یوه بله ستونزه ورپېښه سوه.
د ډېرو سکو وزن درووند، له ځان سره وړل او راوړ ل یې تکلیف ؤ.

کلیوال یوار بیا د دې ستونزي د حل لپاره سره جرګه او پرېکړه یې وکړ، چي د کاغذي پیسو څخه به کټه اخلي.
په دې خبره خلګ ډېر خوشحاله سول، په ګډه یې پر کاغذي پیسو د ( نوټ ) نوم کښېښود او په دې ډول یې خپله ستونزه حل کړه.

ګرانو ماشومانو! موږ ته هم په کارده، چي خپلي ستونزې له یو او بل سره په سلا او مشورو حل کړو او په ټولنه کي هوسا ژوند وکړو.

۲۰۲٤ سپتمبر ۲۷ مه
بن ښار ، جرمنی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ